**د پوښتنو شمیر :         ( ۱۰۰ )**

**تشریحی، څلورځوابه، خانه خالی،  لنډځوابه ، سمی او ناسمی پوښتنې**

**مضمون :         کمپیوټر**

**ټولګی :         یوولسم (۱۱)**

**ژبه :           پښتو**

## تشريحی پوښتنې

1- د کمپيوټر اصلی دړه Mainboard څه دنده لری په مفصل ډول سره يی تشريح کړئ؟
2- د کمپيوټر ورکړيز(Input) او راکړيز (Output) واحدونه توضيح کړئ؟
3- سخت غالی (هارډوير) څه شی ده تشريح يی کړئ؟
4- حافظه څه شی ده او د مرستندويه حافظی د يوې بيلګې نوم وليکئ؟
5- پروسسر يا CPU څه شی ده او له څو برخو څخه جوړه شوی ده يوازی نومونه يی وليکئ؟
6- پوستغالی (سافټ وير) څه شی ده او په څو برخو ويشل شوی صرف نومونه يی وليکئ؟
7- چاپوونکی يا پرنټر څنګه نصبيږی بيان يی کړئ؟
8- Control Panel څه شی ده او د کومو آپشنونو درلودونکی ده؟
9- څرنګه کولای شو چی د پاورپاينټ له پروګرام څخه په بشپړ ډول ووځو، توضيح يی کړئ؟
10- د روباتيک سيستمونو په کارولو سره د موټر جوړولو په صنعت کې د کمپيوټر د استعمالولو رول توضيح کړئ؟

## څلور ځوابه پوښتنې

1. هغه ميله چی د ډيسکټاپ صفحې لاندی قرار لری په څه نامه سره ياديږی؟

الف: Status bar ب: Scrollbar

ج: Toolbar د: Taskbar

2. د متن ډول د ټاکلو لپاره بايد د يوه لاندې آپشن څخه استفاده وشي:

الف: Font size ب: Font style

ج: Font د: Font script

3. د لاندی کوم ميتود په واسطه سره کولای شو چی د Recycle bin محتويات له منځه يوسو:

الف: د Recycle bin څخه د ټولو محتوياتو ټاکل او وروسته د Delete تکمې ته فشار ورکول

ب: په Recycle bin د راسته کليک کولو څخه وروسته د Empty Recycle bin آپشن کيکاږول

ج: الف او ب سم دې

د: درې واړه ناسم دې

4. د Recycle bin څخه بیرته د فایلونو د لاسته راوړلو لپاره یو د لاندی اختیار څخه استفاده کیږي:

الف: Refresh ب: Restore ج: د Delete تکمه کیکاږل د: درې واړه سم دې

5. د وینډوز اصلی صفحه په لاندی یو نوم سره یادیږي:

الف: Desktop ب: Start ج: Notification Area د: Taskbar

6. په آیکن باندی له راسته کلیک کولو څخه وروسته چی کله Pin to start آپشن انتخاب شی کومه لاندی کړنه ترسره کیږي؟

الف: د ذکر شوی پروګرام آیکن د Start Menu په لیست کې اضافه کیږي

ب: د پروګرام آیکن له منځه ځي

ج: پروګرام پرانیستل کیږي

د: هیڅ کړنه نه ترسره کیږي.

7. کوم یو لاندی اختیار د Taskbar د قفل (بندولو) لپاره کارول کیږي؟

الف: Lock the taskbar ب: Auto Hide the taskbar

ج: hide toolbox د: دری واړه سم دی

8. د Notification Area په ساحه کې کوم معلومات ښودل کیږي؟

الف: د شبکې د وصلولو حالت له انټرنیټ سره

ب: ساعت او نېټه

ج: د سپیکر حالت

د: درئ واړه سم دې.

9. د پروګرام آیکن باندی په دوه ځلي کلیک کولو سره څه پیښیږي؟

الف: د پروګرام آیکن انتخابیږي ب: پروګرام بندیږي

ج: پروګرام پرانیستل کیږي د: درئ واړه سم دې

10.هغه User چی په کمپیوټر کې د خورا بدلونونو د راوستلو صلاحیت او کنترول له ځان سره لري عبارت دی له:

الف :Standard ب: Guest ج: Domain د: Administrator

11. د فایلونو د کاپی کولو لپاره له لاندې یوه (Shortcut) څخه استفاده کولای شو:

الف: Shift+C ب: Shift+V ج:Ctrl+C د:Alt+C

12.د کاپی شویو محتویاتو د Past کولو لپاره له لاندی (Shortcut) څخه استفاده کولای شو:

الف: Shift+C ب: Shift+V ج:Alt+V د:Ctrl+V

13.په Microsoft Word پروګرام کې د نوی فایل د رامنځ ته کولو لپاره له لاندی یوه انتخاب څخه ګټه اخلو:

الف: Shift+N ب: Shift+V ج:Alt+N د:Ctrl+N

14. د کلمو یا جملو لاندی د خط (کرښې) راوړلو لپاره له کوم غوراوی څخه ګټه اخلو:

الف : Search ب: Replace ج : Bold د: underline

15.د لاندی وسایلو څخه، کومه یوه یې د کمپیوټر داخلی وسیله نه ګڼل کیږي؟

الف:کیبورډ ب: مانیټور ج: موس د: هیڅ یو

16.د لاندې وسایلو څخه، کومه یوه یې د کمپیوټر بهرنۍ وسیله نه ګڼل کیږي؟

الف: کیبورډ ب: مانیټور ج: پرنټر د: سپیکر

17.د لاندی وسایلو څخه کوم یو هارډویر نه دي؟

الف: مانیټور ب: کیبورډ ج:Microsoft word د: چاپوونکی ماشین

18.د لاندی غوراوی څخه کوم یو سافټ ویر نه دي.

الف: Microsoft word ب: Microsoft Excel ج:paint د:RAM

19. د لاندی غوراوی څخه یې کوم یو Application program نه دي.

الف : مایکروسافټ ورد ب: مایکروسافټ اکسل ج: عامل سیستم د: مایکروسافټ اکسس

20. په مایکروسافټ ورډ پروګرام کې د ټول متن انتخابولو لپاره له لاندی شارټ کټ څخه ګټه اخلو:

الف : Ctrl+A　　ب: Ctrl+B　　ج: Ctrl+C　　د: Ctrl+F

21. د Dialog box څخه منظور څه شی ده؟

الف: پنجره　　ب: د خبرواترو بکس　　ج: د کارمیز　　د:کاری پټه

22. د کمپیوټر موس د څو کلیک (ټنیو) درلودونکی دي.

الف: یوه کلیک　　ب: دوه کلیک　　ج: درې کلیک　　د: څلور کلیک

23. د لاندی فارمټونو څخه کوم یو یې د انځورونو لپاره یو عام فارمټ ده.

الف: .doc　　ب: .mp3　　ج: .jpg　　د: .exe

24. د کومې تڼی په کیکاږلو سره پنجره خپلې پخوانی اندازی ته راستنه کیږی.

الف: Close　　ب: Maximize　　ج:Minimize　　د:Restore

25. کوچنی کمپیوټرونه په لاندی یوه نوم سره یادیږی.

الف: Super Computer　　ب: Mainframe Computer

ج: Portable Computer　　د: درې واړه سم دي

26. د صفحې د تړلو لپاره له لاندی یوه شارټ کټ څخه ګټه اخلو:

الف: Alt+A4　　ب:Alt+shift　　ج: Ctrl+O　　د:Ctrl+N

27. د لاندی یوې کیلې څخه د فایلونو د غیر متوالی شمیر انتخابولو لپاره ګټه اخیستل کیږی.

الف: Shift　　ب: Ctrl　　ج: Space　　د: Alt

28. د کمپیوټر دایمی حافظه عبارت ده له:

الف: ROM　　ب: RAM　　ج: EROM　　د: هیچکدام

29. کمپیوټر له کوم پروګرام پرته فعالیت نشی ترسره کولای:

الف: مایکروسافټ ورډ　　ب: مایکروسافټ اکسل　　ج: مایکروسافت وینډوز　　د: درې واړه سم دي

30. د Undo دستور د خنثی کولو لپاره له لاندی یوه کمنډ څخه استفاده کیږی.

الف: RESTORE ب: CLOSE ج: UNDO د:REDO

## خانه خالی پوښتنې

1- د Microsoft power point پروگرام د ------------------- سافټ ویر له جملی څخه ګڼل کیږی.
2- د کمپیوټر دایمی حافظه ----------------- یو له هغې حافظی څخه ده چی معلومات په خپل ځان کې ساتی او موږ نه شو کولای په هغه کې تغیر راوړو.
3- د کمپیوټرلنډمهاله حافظه ---------------- یو له هغی حافظی څخه ده چی معلومات په دایمی توګه په خپل ځان کې نه شی ساتلای د برېښنا له پری کیدو سره سم معلومات له لاسه ورکوی.
4- هغه پروګرام چی کمپیوټر پرته له هغه څخه فعالیت نه شی ترسره کولای د ----------------- په نوم سره یادیږی.
5- د کاپی شوی متن د Past کولو لپاره د ------------------ له شارټ کټ څخه استفاده کوو.
6- د انتخاب شوی متن د Cut کولو لپاره د ------------------- له شارټ کټ څخه استفاده کوو.
7- په کیبورډ کې د ------------ بټن د Help صفحی ښودلو لپاره کارول کیږی.
8- د کمپیوټر موس د ------------- کلیکونو لرونکی دی.
9- شخصی کمپیوټرونه په ------------ کال کې د یوې امریکائی کمپنې له لوری څخه جوړشول.
10- په کمپیوټر کې د Microsoft Office پروګرامونو د نصب/انسټالیشن لپاره د هغه ---------- خلاصوو.
11- YouTube او Facebook د ------------ پروګرامونو له جملی څخه ګڼل کیږی.
12- د کمپیوټر عامل سیستم د ------------- په نامه سره هم یادیږی.
13- د --------------- کمپیوټر د Portable کمپیوټرونو له جملی څخه دې.
14- په Control panel کې د پروګرامونو د له منځه وړلو لپاره د ---------- په آفشن باندی کلیک کوو.
15- په ډیټا د پروسس کولو دنده د ------ پر غاړه ده.
16- لوډسپیکر د ----------- وسایلو له جملی څخه ګڼل کیږی.
17- مانیټور د ------------ وسایلو له جملی څخه ګڼل کیږی.
18- هارډ ډیسک او فلش د ----------- حافظی له جملی څخه ګڼل کیږی.

19- Anti-Virus د ------------ پروگرامونو له ډلې څخه دی.

20- کیبورډ د ------------- وسایلو له جملې څخه ګڼل کیږي.

## لنډځوابه پوښتنې

1. د کمپیوټر د چالانولو لپاره باید کومې تکمې ته فشار ورکړل شي؟
2. د کمپیوټر سکرین (صفحه نمایش) په څه نامه سره یادیږي؟
3. د کمپیوټر موس د کومو وسایلو له جملې څخه ګڼل کیږي؟
4. د کمپیوټر مانیټور د کوم ډول وسایلو څخه دی؟
5. هغه وسیله چې هارډ کاپي په سافټ کاپي سره بدلوي په څه نامه سره یادیږي؟
6. هغه وسیله چې سافټ کاپي په هارډ کاپي سره اړوي په څه نامه سره یادیږي؟
7. د کمپیوټر پس زمینه (شالید) په څه نامه سره یادیږي؟
8. د کمپیوټر کاریالی پروګرامونه په څه نامه سره یادیږي؟
9. څنګه کولای شو د کمپیوټر نېټه او ساعت تنظیم کړو؟
10. د Microsoft Word پروګرام څنګه کولای شو خلاص کړو؟
11. په Microsoft Word پروګرام کې د خط ډول له کومې برخې څخه کولای شو تغیر کړو؟
12. په مایکروسافټ پاورپاینټ پروګرام کې د سلایډونو د ښودلو لپاره له کوم آپشن یا اختیار څخه ګټه اخلو؟
13. په سلایډونو کې د حرکت د طرحه کولو ترتیب او تنظیم په څه نامه سره یادیږي؟
14. د معلوماتو د لټون لپاره په ویب سایټ کې باید له څه شي څخه استفاده وکړو؟
15. په Microsoft PowerPoint پروګرام کې د کمپیوټر څخه د انځورونو د داخلولو لپاره له کوم اختیار څخه ګټه اخیستلای شو؟
16. په مایکرو سافټ ورډ پروګرام کې د صفحو د حاشیې د ترتیبولو لپاره له کوم اختیار څخه ګټه اخیستل کیږي؟
17. PC د څه شي مخفف دی ویې لیکئ؟
18. په کمپیوټر کې له کوم پروګرام څخه د ودانیو د سه بعدي (3D) ډیزاین لپاره ګټه اخیستل کیږي یوازې نوم یې ولیکئ؟
19. هغه پروګرام چې د انسان سره د بندار او خبرو اترو فوق العاده وړتیا لري په څه نامه سره یادیږي؟
20. فیسبوک د کوم ډول پروګرامونو له جملې څخه ګڼل کیږي؟

## سمی او ناسمی پوښتنې

1. د مکتوبونو لیکلو لپاره له عملیاتی سیستم یا Operating System پروګرام څخه ګټه اخیستل کیږی.

سم/ناسم

2. Number key په هغه صورت کې کار کوی چی کله په کیبورډ کې Num lock فعال وې.

سم/ناسم

3. د یوه سند د ذخیره کولو لپاره د Save له کمانډ څخه ګټه اخلو.

سم/ناسم

4. په یوه انځور باندی د کارکولو لپاره له Notepad پروګرام څخه ګټه واخلو؟

سم/ناسم

5. د کمپیوټر د خاموش کولو لپاره په Start button کلیک کوو، وروسته د Restart تکمې ته فشار ورکوو.

سم/ناسم

6. د یوه ایکن د غوراوی لپاره له کلیک څخه استفاده کوو.

سم/ناسم

7. د یوه فایل د بسته کولو لپاره له Close بټن څخه ګټه اخلو.

سم/ناسم

8. د سکرین څخه د صفحی پټولو لپاره د Minimize تنۍ ته فشار ورکوو.

سم/ناسم

9. د سکرین پر مخ د صفحی غټ ښودلو لپاره د Close تکمی ته فشار ورکوو.

سم/ناسم

10. د یوه فایل د له منځه وړلو لپاره هغه انتخابوو او کیبورډ څخه د Delete تکمې ته فشار کوو.

سم/ناسم

11. د Paint پروګرام د متنونو د جوړولو لپاره کارول کیږی.

سم/ناسم

12. هغه سندونه چی د یوه کارن User له لوری جوړیږی او په هغه کې تغیرات راوړی د فایل په نوم سره یادیږی.

سم/ناسم

13. د Notepad پروګرام په مرسته سره کولای شو چی انځورونه جوړ کړو.

سم/ناسم

14. په مایکروسافټ ورډ پروګرام کې، په متن کې د تورو لټون لپاره د Ctrl+C شارټ کټ څخه استفاده کولای شو.

سم/ناسم

15. د غوره شوی کلمی د Bold کولو لپاره، موږ د Ctrl+B شارټ کټ کاروو.

سم/ناسم

16. د یوه نوی فایل جوړولو لپاره د Ctrl+I شارټ کټ کاروو.

سم/ناسم

17. د کاپی شویو متنونو د Past کولو لپاره د Ctrl+V شارټ کټ کاروو.

سم/ناسم

18. موږ هیڅ وخت نشو کولای چی ډیلیت شوی فایلونه او فولډرونه بیرته لاسته راوړو.

سم/ناسم

19. موږ کولای شو چی د خوښې وړ فایلونو او فولډرونو ته په لږ وخت کې د Search له عملیی څخه په وینډوز کې استفاده وکړو.

سم/ناسم

20. موږ هیڅ کله نه شو کولای چی د کمپیوټر ساعت او تاریخ تنظیم کړو.

سم/ناسم